مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۵مه | د ۲۰۲۱ د فبرورۍ درېیمه | ۶۷۵مه گڼه

# د هدفي بریدونو او چاودنو اوج؛

## طالبانو او حکومت دواړو د دوکتور عاطف وژل کېدل غندلي



۳

چسپکي ماینونه؛ د مسوولینو د شرمونکي ماتې انځور
۲ مخ

طرح صلح ایرلند شمالی در افغانستان عملی است؟
۲ مخ

ایا د بایډن اداره به د سعودي پر وړاندې خپل دریځ بدل کړي؟
۳ مخ

## راپورونه: په هلمند کې په هوايي برید کې لسو ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې

د راپورونو له مخې، د هلمند ولایت په ناوې ولسوالۍ کې د هوايي برید له کبله لسو ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.


د یاد ولایت له ناوې ولسوالۍ څخه یوې باوري سرچینې رسنیو ته ویلي، چې دغه برید برید تېره ورځ غرمه مهال د خرابه په نامه سیمه کې شوی، چې په پایله کې یې پنځه ملکي وگړي وژل شوي او پنځه نور ټپیان شوي دي.

په ورته مهال د هلمند ولایت امنیتي مسوولینو د دغې پېښې په اړه ناخبري ښودلې، خو ویلي یې دي چې ژر به په دې اړه له رسنیو سره وروستي معلومات شریک کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په ښارونو کې د مقناطیسي ماینونو د چاودنو او په کلیو او لرې پرتو سیمو کې د هوايي بریدونو له کبله د ملکي مرگ ژوبلې شمېرې د پام وړ ډېرې شوې دي. د جگړې ښکېلې خواوې یو او بل پر دې تورنوي چې له ملکي وگړو څخه د سپر په توگه کار اخلي.

د جگړو او ملکي مرگ ژوبلې له ډېرېدو ورها خوا په قطر کې د حکومت او طالبانو د مرکچي پلاوو ناستې هم د نامالومو دلایلو له کبله ځنډېدلې دي. د طالبانو د مذاکراتي پلاوي مشرانو د سیمې هېوادونو ته پر افغان سولې د خبرو او مشورو لپاره سفرونه پیل کړي دي.

## د بشري حقونو کمېسیون: رواني هدفي وژنې د سولې خبرې له ستونزو سره مخ کوي



۵ مخ

## طالبان: براساس توافق دوحه، حکومت اسلامی جاگزین حکومت کنونی می‌شود



هیات مذاکره‌کننده طالبان می‌گوید که بر بنیاد توافق نامه دوحه، نتیجۀ مذاکرات صلح سبب به میان آمدن حکومت اسلامی‌یی خواهد شد که جاگزین حکومت اشرف غنی باشد.

اعضای هیات مذاکره‌کننده طالبان در یک نشست خبری در ایران هشدار می‌دهند که اگر نیروهای امریکایی و یا هم ناتو پس از ماه «می» در افغانستان حضور داشته باشند، این گروه در برابر آنان خواهد جنگید.

اما دفتر مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور می گوید که بحث در بارۀ نظام هنوز پیش از وقت است و از طالبان می خواهد که در نخست از ریختاندن خون مردم دست بردارند.

سهیل شاهین، عضو هیات مذاکره کننده طالبان در تهران به خبرنگاران گفت:«این حکومت به اساس توافق نامه از بین می رود و یک حکومت دیگر به اساس مذاکرات بین الافغانی به میان میاید و ما در این مورد با ایران و روسیه دیدار هایی داشتیم و آنها در این باره موافق هستند.»

این گفته‌های طالبان با واکنش حکومت افغانستان رو به رو شده‌اند. رحمت الله اندر، سخن‌گوی دفتر مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور گفت:«طالبان قبل از تبصره در باره نظام، در نخست مسؤل خون ریزی مردم این سرزمین استند، بحث در بارۀ چوکات نظام قبل از وقت است.»

از سویی هم رئیس شورای عالی مصالحه ملی می‌گوید که مذاکرات صلح تا اکنون وارد مرحله جدی نشده‌اند.

2 017550 139621

کتاب

۴ مخ

## ولې رانه لاړې




د دې داستان(ولې رانه لاړې) کیسه هم د یوه داسې ځوان پر ژوند راڅرخي، چې ټول ژوند او ارمانونه یې د کلتور قرباني شوي دي، هیلې یې مړاوې شوې دي، له کور کلي، خپلوانو او کورنۍ لرې شوې دی، د خلکو منځ کې په بد نوم پېژندل شوی او بالاخره د خلکو د خبرو له وجې د وطن پرېښودو ته اړشوی دی.

## کرنې ریاست: په خوست کې ۶۸ کرنیزې پروژې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د خوست د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د طرحې په اډانه کې په دغه ولایت کې د ۶۸ زېرمتونو رغنیزې چارې بشپړې او گټې اخېستنې ته وسپارل شول.

د یاد ولایت د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې په دغو ۶۸ پروژو کې ۱۹ د پیازو او ۴۹ د کچالو زېرمتونونه شامل دي، چې د برخمن شویو بزگرانو په لس سلنې ونډې سره د خوست ولایت په مرکز او اړوندو شپږو ولسوالیو کې کرندگرو ته جوړې شوې، چې له دې لارې به کروندگر وکولای شي خپل راټول کړي حاصلات په کور دننه خوندي او د اړتیا په صورت کې بازار ته وړاندې کړي.

د چارواکو په خبره، د دغو پروژو ټولیز لگښت ۳۷ میلیونه او ۳۸۰ زره او ۱۳۷ افغانۍ دی، چې ۹۰ سلنه یې د کرنې وزارت او لس سلنه نور یې برخمن شوي بزگران ورکوي.



سرلیکنه

## چسپکي ماینونه؛ د مسوولینو د شرموونکې ماتې انځور

په کابل ښار کې پرون بیا څلور چاودنې وشوې. دا چاودنې ظاهراً د چسپکي ماینونو وې، چې پکې د جمعیت اصلاح د مرکزي شورا رییس دوکتور محمدخان عاطف هم ووژل شو. پرونۍ چاودنې درې پر ملکي او یوه پر دولتي موټرونو شوې دي چې تر لسو زیاتو کسانو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې ده. هېچا د دغو بریدونو پړه نه ده اخیستې. حکومت دغه ډول بریدونه د طالبانو کار گڼي او یا وایي چې نورې ډلې د طالبانو په مرسته دا بریدونه کوي، خو طالبان یې ردوي او د دوکتور عاطف وژنه یې د «داخلي استخباراتو» کار گڼلی دی.
په کابل کې دا بریدونه څوک کوي او څوک یې نه کوي؛ دا یو بحث؛ خو دغو بریدونو د وېرې او ډار یوه سخته فضا خپره کړې ده. په کابل کې هره ورځ یوه یا څو داسې چاودنې کېږي چې پکې هر ډول خلک په نښه کېږي. له ژورنالېست او مدني فعال نیولې تر سیاستوال، دیني عالم، قومي مشر، دولتي کارکوونکي او بل هر افغان پورې هر څوک پکې په نښه کېږي. اوس هر څوک چې په کابل کې له کوره راوځي او بیا په موټر کې سپرېږي، د وېرې احساس کوي. هېڅوک خوندي نه دي او یوازې هغوی د خوندیتوب احساس کوي چې یا له کورونو نه راوځي او یا هم له خلکو لرې په لوړو دولتي څوکیو او خوندي سیمو کې د گڼو ساتونکو په منځ کې ژوند کوي. دغو وژنو او چاودنو د خلکو پر ورځني ژوند او رواني امنیت ژور اغېز کړی دی. ډېر خلک له دې وېرې کم له کورونو راوځي او ډېر کارونه یې پرېښې دي. د دې تر څنگ له رواني اړخه هم خلک تر ژور فشار لاندې دي او له سختې ناهیلۍ سره مخ دي.
حکومت چې د خلکو د امنیت د ساتلو دنده لري، په شرموونکي ډول د دغو بریدونو په مخنیوي کې پاتې راغلی دی. زموږ استخباراتي او امنیتي ادارې د دغو چاودنو او وژنو په مخنیوي کې بې وسې دي او خلک پرې باور نه کوي. حکومتي چارواکي هم د دې پر ځای چې د دغو پېښو د مخنیوي لپاره واقعي او اساسي گامونه واخلي، یا طالبان ملامتوي او یا هم یوازې د غندنې او خواخوږۍ الفاظ کاروي. لومړی د بریدونو څرنگوالي ته په کتو اوس داسې نه ښکاري چې دا ټول بریدونه به طالبان کوي، خو که رښتیا یې هم طالبان کوي، نو بیا هم د حکومت دنده ده چې د دغو بریدونو مخنیوي وکړي، څو خلک له اوسني ناوړه حالت څخه ووځي.
حکومتي چارواکي باید درک کړي چې دنده یې د نورو ملامتول، غندل او خواخوږي نه ده، بلکې اصلي دنده یې دا ده چې د خلکو سر خوندي کړي او د دغه ډول بریدونو مخه ونیسي. څنگه ممکنه ده چې په پلازمېنه کې دې هره ورځ داسې پېښې وشي، خو زموږ استخباراتي او نور امنیتي ارگانونه دې د دغو بریدونو اصلي عاملین پیدا نه کړي او مخه دې یې ونه نیسي!؟ دا یو برید نه دی، دوه نه دي، درې نه دي، بلکې لسگونه بریدونه دي او خبره سلگونو ته رسېږي، خو بیا یې هم مخه نه نیول کېږي او همغسې روان دي.
دا بریدونه او له دې امله را ولاړه شوې وېره یوازې د حکومت او د امنیتي او استخباراتي مسوولینو د ناکامۍ مانا لري او دوی باید یا د دغو بریدونو او وحشتونو مخه ونیسي او یا هم پرېږدي چې بل څوک دا حالت کنټرول کړي.

# طرح صلح ایرلند شمالی در افغانستان عملی است؟

نویسنده: یاسین رسولی؛ روزنامه‌نگار

توافقنامه صلح ایرلند، ۲۲ سال پیش، ساختار تقسیم قدرت را پیشنهاد کرد که قابل پذیرش برای تمام طرف‌های درگیر منازعه پیچیده تاریخی ایرلند شمالی قرار گرفت.
ناآرامی‌های ایرلند شمالی حدود سه دهه دوام یافت، بیش از ۳۶۰۰ نفر کشته و حدود ۵۰۰۰۰ نفر زخمی شدند.
توافقنامه «صلح بلفاست» یا «جمعه نیک» روز دهم اپریل ۱۹۹۸ بین بریتانیا و جمهوری ایرلند و احزاب سیاسی ایرلند شمالی به امضاء رسید. توافق صلح به بیش از سی سال مبارزه مسلحانه ‹ارتش سری جمهوریخواه › ایرلند (IRA) با ارتش بریتانیا پایان داد و آتش بس بین دسته‌های شبه نظامی پروتستان و کاتولیک را برقرار کرد.
منازعه ایرلند ریشه تاریخی فرقه‌ای و سیاسی بر سر موقعیت سیاسی ایرلند شمالی داشت. اقلیت پروتستان می‌خواستند بخشی از پادشاهی بریتانیا بمانند، در حالی که اکثریت کاتولیک می‌خواستند از بریتانیا جدا و به جمهوری ایرلند یکپارچه بپیوندد.
بحران در سال ۱۹۶۹ با ورود ارتش بریتانیا به ایرلند شمالی برای برقراری نظم ابعاد تازه‌ای به خود گرفت. ارتش سری جمهوریخواه ایرلند (IRA) به مبارزه مسلحانه و بمبگذاری‌ها در سایر شهرهای بریتانیا از جمله لندن روی آورد.
در سند توافقنامه صلح ایرلند سه «روند» پیش بینی شد که بر مبنای آن پارلمان ایرلند شمالی با شرکت تمامی جناح‌ها با قدرت قانونگذاری دولت محلی ایرلند شمالی تاسیس شد. شورایی برای گفتگو میان نمایندگان دو سوی سرحد ایرلند شمالی و جمهوری ایرلند ایجاد شد، و شورای دیگری در سطح وزیران میان لندن و بلفاست شکل گرفت.
برقراری آتش بس در زمان گفتگوها، خلع سلاح شبه نظامیان، آینده پلیس در ایرلند شمالی و آزادی زودهنگام زندانیان شبه نظامی از موضوع‌های جنجالی تطبیق این توافقنامه صلح بود.
بر مبنای توافقنامه صلح، شورشیان جمهوری‌خواه از طریق مکانیزم «تقسیم قدرت» وارد حکومت شدند.
از مایکل سمپل، استاد دانشگاه بلفاست سوالاتی را در زمینه مقایسه طرح صلح ایرلند با روند کنونی صلح افغانستان پرسیدم که پاسخ آن را در ادامه مطلب مرور می کنم.

**توافقنامه صلح ایرلند شمالی چه درس‌هایی برای افغانستان دارد؟**

آیده «تقسیم قدرت» و تاسیس حکومت محلی در ایرلند شمالی در مورد طالبان و در افغانستان قابل تطبیق است؟
آیا لازم است که همه‌پرسی (رفراندوم) برای حمایت از صلح مانند ایرلند باید در دو سوی سرحد افغانستان و پاکستان برگزار شود؟
چرا گفتگوهای صلح در ایرلند منجر به آتش بس و پایان سه دهه خشونت‌ها شد، اما در افغانستان هنوز چنین اتفاقی نیافتده است؟
آقای سمپل تجربه سه دهه کار در افغانستان را دارد، او از اولین کسانی است که در سال ۲۰۰۸ گفتگو با طالبان را آغاز کرده بود که خشم دولت وقت افغانستان را برانگیخت.
تسهیل‌گران آمریکایی که برای صلح ایرلند و روند صلح افغانستان منصوب شده‌اند، رویکردهای اساساً متفاوتی به موضوع خشونت اتخاذ کرده اند. سناتور میچل، که تسهیل‌گر توافق بلفاست بود، این اصل را در پیش گرفت که طرف‌ها باید قبل از شرکت در مذاکرات سیاسی برای دستیابی به توافق، از خشونت دست بکشند.
گفتگوها در حالی که آتش‌بس برقرار بود، سال‌ها ادامه یافت، پیش از آنکه همه طرف‌های درگیر در ایرلند شمالی به توافق برسند.
برعکس، زلمی خلیلزاد به این نتیجه رسیده است که طالبان پیش از نهایی شدن توافق با آتش‌بس موافقت نخواهد کرد. این به این معنی است که طالبان در حالی که پشت میز مذاکره نشسته اند و مطالبات سیاسی خود را مطرح می‌کنند، جنگجویان این جنبش به دولت و جامعه مدنی حمله می کند.
تداوم خشونت تفاوت عمده میان زمینه مذاکرات ایرلند شمالی و مذاکرات قطر است. طالبان در گفتگوها خواستار مطالبات یا امتیاز هستند، به این دلیل که نمایندگی از بخشی از کشور می‌کنند یا به خاطر این است که توان حملات به مواضع دولت را دارند؟ همه طرف‌های مذاکرات صلح در ایرلند شمالی اصول دموکراتیک را پذیرفته بودند، اما بعید است طالبان چنین کاری انجام دهند.

**رفراندوم عمومی برای توافقنامه صلح**

در مورد تایید توافق صلح، دلیل خاصی وجود داشت که چرا توافقنامه بلفاست در ایرلند شمالی و جمهوری ایرلند به رای گذاشته شد. چراکه پیش از توافق، قانون اساسی جمهوری ایرلند ادعای بدون قید و شرط حاکمیت بر کل ایرلند داشت.
بر اساس توافق جدید، همه طرفین موافقت کردند که هرگونه تغییر در آینده مرزها تنها در صورتی اتفاق بیافتد که مردم به آن رای دهند. این اصل اساسی جدید تغییر بنا به رضایت مردم، نیاز به تغییر در قانون اساسی جمهوری ایرلند داشت.
در ماه می سال ۱۹۹۹ در رفراندوم ۷۴ درصد در ایرلند شمالی و ۹۴ درصد مردم در جمهوری ایرلند از توافقنامه صلح حمایت کردند. حمایت کمتر از طرح صلح در ایرلند شمالی به شمار قابل توجهی از رای دهندگان شکاک پروتستان‌های طرفدار پادشاهی نسبت داده شد که به اجرای این توافقنامه صلح باور نداشتند.
البته طبیعی است که مردم افغانستان باید فرصت رای دادن برای تایید هرگونه توافق صلح را داشته باشند. اما آیا احزاب افغانستان، به ویژه طالبان، با اصل رضایت مردم و اهمیت یک نفر یک رای موافقت می‌کنند؟ طالبان امروز می‌گویند که آنها برای یک نظام اسلامی می‌جنگند. اما اگر آنها بپذیرند که تغییر در سیستم حکومتی مستلزم رضایت مردم است، باید (اول) جنگ را متوقف کرده و برای پیروزی در روند سیاسی تلاش کنند. طالبان هنوز با «اصل رضایت» موافقت نکرده‌اند.
این سوال که چه کسی در همه پرسی (رفراندوم) صلح افغانستان رأی دهد، نسبت به اوضاع ایرلند شمالی ساده‌تر است. تنها افرادی که حق دارند بر تأیید صلح افغانستان صحه بگذارند مردم افغانستان هستند. افغانها از مدت‌ها قبل می‌دانند که مسئله اساسی مرز بین پاکستان و افغانستان حل و فصل شده است. نه ساکنان مناطق قبیله‌ای پاکستان و نه مردم خیبر پښتونخواه به عنوان طرف جنگ در افغانستان پذیرفته نمی‌شوند.

**آیده ‹تقسیم قدرت›**

روشی که دولت محلی و سه روند strands در توافقنامه بلفاست استفاده شد، می‌تواند درس‌های مفیدتری برای افغانستان داشته باشد. در آن توافقنامه یک دولت محلی همراه با تقسیم قدرت در ایرلند شمالی پیش‌بینی شده بود. اما تقسیم قدرت بین جناح‌های مسلح نبود. تقسیم قدرت بین احزاب سیاسی بود که با آرای کتله‌های مختلف در ایرلند شمالی انتخاب شدند.
ایده این بود که از شرایطی که کتله‌ای با بیش از ۵۰ درصد آرا همیشه نتواند اقلیت‌ها را از دولت کنار بگذارد. ایده این بود که یک دولت باید همیشه با حمایت از هر دو بخش اصلی در ایرلند شمالی (کاتولیک‌ها و پروتستان‌ها) تشکیل شود. مردم در ایرلند شمالی موافقت کردند که احساس یک گروه مبنی بر اینکه به طور دائم از دولت کنار گذاشته می‌شود، عامل اصلی منازعه است. تطبیق تقسیم قدرت در عمل همیشه چالش برانگیز بوده است، اما حداقل حس قبلی محرومیت را از بین برد.
با این حال، اگر این ایده را در افغانستان تطبیق کنید، منظور تقسیم قدرت بین طالبان و «دولت» نخواهد بود. چالش واقعی تقسیم قدرت در افغانستان این خواهد بود که چگونه اطمینان حاصل شود که همه جوامع (اقوام) در افغانستان - هرطوری این جوامع تعریف شده باشند- احساس کنند که آنها در دولت دارای صدا و مشارکت هستند. صرف حضور طالبان در دولت به این هدف نمی‌رساند.
توافقنامه بلفاست؛ همه طرفهای صلح روی آن امضا کردند و نسخه‌ای از آن به تمام خانه‌های ایرلند فرستاده شد.
جنبه دیگر فرمول «سه روند» در ایرلند شمالی این بود که فرمولی را برای همکاری بین دولت‌های همسایه در مورد مسئله مشترک فراهم می‌کند. دلایل زیادی وجود دارد که بتوان استدلال کرد که پاکستان در آنچه در افغانستان اتفاق می‌افتد، سهیم است، از جمله چهل سال سابقه میزبانی از پناهندگان افغان، منابع آب مشترک بین دو کشور و مسائل مربوط به مدیریت مرزها. گسترش و رسمیت بیشتر همکاری بین دولت‌های افغانستان و پاکستان ممکن است راهی مفید برای تقویت حمایت از توافق (صلح) افغانستان باشد.
در ۳۱۰ مایل (حدود ۵۰۰ کیلومتر) میان ایرلند شمالی و جمهوری ایرلندی «مرز سخت» وجود ندارد. دو دهه بعد، در روند خروج بریتانیا از اتحادیه اروپا تنها مرز زمینی بریتانیا با یک عضو اتحادیه اروپا یعنی جمهوری ایرلند جنجالی شد. بریتانیا و اتحادیه اروپا در جستجوی راه‌حل‌های دیگری، مانند استفاده از تکنولوژی برآمده اند که این بخش توافق صلح که برداشتن تاسیسات مرزی در ایرلند بود، همچنان حفظ شود.
اگر می خواهید فرمول ایرلند شمالی را در افغانستان به کار ببرید، باید از طالبان بخواهید آتش بس را بپذیرد و سپس در کنار احزاب سیاسی قانونی که مدعی نمایندگی مردمی هستند که طالبان نیز آنها را بسیج کرده است، به یک روند سیاسی بپیوندد. واقعیت این است که همه رهبران طالبان پشتون هستند، اما همه پشتون‌ها از طالبان حمایت نمی کنند. بنابراین، در گفتگوهای جاری، پس از آتش بس توسط طالبان، برای طرح صلح پایدار در افغانستان، طالبان با سایر پشتون‌ها و نمایندگان احزاب و اقوام دیگر پشت میز بنشینند. هدف از این گفتگوها طراحی ترتیبات فراگیر برای دولت (آینده) افغانستان است، به گونه‌ای که همه افغان‌ها احساس کنند در تنظیم امور پس از جنگ سهیم هستند.
بنابراین، اصلی‌ترین درسی که از رویکرد صلح در ایرلند شمالی می‌گیرید این است که وارد ساختن طالبان در روند صلح فقط گام نخست است. بنابراین، صرف پرسیدن چگونگی تقسیم قدرت با طالبان سوال غلطی است.
سوال واقعی این است که چگونه می‌توان طالبان را در یک روند سیاسی وارد کرد و از روندی حمایت شود که در آن افغان‌ها در مورد یک سیستم سیاسی فراگیر توافق کنند، با درنظر داشت عوامل این جنگ چهل ساله.
بنابراین، تجربه ایرلند شمالی نشان می‌دهد که مذاکرات دو جانب فعلی، طالبان و دولت، فقط می‌تواند آغاز یک روند باشد. اگر افغان‌ها بخواهند به صلح پایدار همانند ایرلند شمالی دست یابند، باید راهی به گفتگوهای فراگیرتر و بلندپروازانه‌تر بیابند.

# ایا د بایډن اداره به د سعودي پر وړاندې خپل دریځ بدل کړي؟

بي بي سي- پښتو

د امریکا نوي ولسمشر جو بایډن د کمپاین ډلې په وینا د ټرمپ ادارې «سعودي ته یو سپین چېک لیکلی و.» دوی تور لگوي چې واشنگټن تېرو څلورو کلونو کې سعودي کې له بشري حقونو څخه سرغړونو ته او په یمن کې یې اوږدې جگړې ته چې په تېرو شپږو کلونو کې یې په ترخ کې لسگونه زره کسان وژل شوي، په ړنده سترگه کتل.

اوس په سپینه ماڼۍ کې نوې ادارې ژمنه کړې چې له سعودي عربستان سره به خپلې اړیکې په بشپړه توگه نوې کوي او د بشري حقونو موضوع به یې مهمه برخه وي.

ولسمشر جو بایډن وار دمخه اشاره کړې چې په یمن کې به د سعودي په مشرۍ ائتلاف سره د امریکا پوځي ملاتړ هم پای ته رسوي.

د ولسمشر جو بایډن ادارې په تېره یوه اونۍ کې د میلیاردونو ډالرو په ارزښت پر سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو د وسلو پلورل ځنډولي او له سره کتنه ورته کوي.

خو پوښتنه دا ده چې ایا په اوږده موده کې به څه بدل شي؟ ایا د ولسمشر بایډن د ادارې هوډ به په سعودي کې د بشري حقونو د سرغړونو په برخه کې او په گاونډي یمن کې پر جگړې عملاً څه اغېز ولري؟

له هر څه ورهاخوا سعودي عربستان په عربي نړۍ کې د امنیت په برخه کې د امریکا نږدې ملگری او په منځني ختیځ کې د هغو ملیشو پرضد جگړه کې چې د ایران له خوا یې ملاتړ کېږي، یو ستراتیژیک متحد هېواد او د امریکایي وسلو یو لوی پېرېدونکی دی.

د سویډن په ستاکلم کې د سولې څېړنیز مرکز «سپري» په وینا، سعودي عربستان له ۲۰۱۵ تر ۲۰۱۹ کال پورې په نړۍ کې د وسلو تر ټولو لوی واردوونکی هېواد و چې ډېره وسله یې امریکا پلورله.

د بریتانیا په گډون د لوېدیځو هېوادونو لخوا پر سعودي عربستان پلورل شوې وسلې په یمن کې د سعودي مخالفینو په نښه کولو لپاره کارول شوې دي.

په بریتانیا کې د وسلو پر ضد د کمپاین ډلې غړی اندریو سمېټ وایي: «د بدلون لپاره له هغه نه باید پیاوړي دریځ خپل کړای شي چې ولسمشر بایډن د ولسمشر اوباما د واکمنۍ پر مهال د مرستیال ولسمشر په توگه خپل کړی و؛ ځکه پر سعودي د وسلو د پلورلو د لړۍ ډېره برخه د ولسمشر اوباما د واکمنۍ پرمهال پیل شوه.»

د بشري حقونو په برخه کې سعودي چارواکي د اعدامونو په شمېر کې ډراماتیک کموالي ته اشاره کوي. د ځواکمن ولیعهد محمد بن سلمان، چې د «ایم بي ایس» په نامه پېژندل کېږي، کاري ډله یې په روښانه توگه پوهېږي چې له بشري حقونو څخه سرغړونې په نړۍ کې د سعودي پر تصویر ناوړه اغېزه لري.

**ادعاوې او سرغړونې**

له بشري حقونو څخه تر ټولو څرگندو او روښانه سرغړونو د ایم بي ایس ډله په لوېدیځ کې بدنامه کړې ده.

په دې کې په ۲۰۱۸ کال په استانبول کې د سعودي په قونسلگرۍ کې دننه د سعودي خبریال جمال خاشقجي وژنه، د ښځو د حقونو د کمپاین کوونکې لجین الهذلول نیونه او شکنجه کول، له خلکو سره د عدلي سیستم ظالمانه او له شک نه ډک چلن هم راځي چې لا هم روان دی.

ډېر ځله او په تکرار ډول د ځینو کسانو محاکمه په پټه تر سره کېږي، مدعیان نشي کولای چې ځان ته مدافع وکیل ونیسي او د ترهگرۍ ضد محکمې د سوله ییزو مسایلو لپاره کارول شوې دي. د ولیعهد محمد بن سلمان د واکمنۍ پر مهال د ځینو کسانو د تري تم کېدو لړۍ هم روانه ده.

د نیونو او محاکمه کولو لړۍ ان د مخښکو شاهي کورنیو تر غړو پورې هم رسېږي. تېر کال د سعودي د بنسټگر زوی ۷۹ کلن شاهزاده احمد بن عبدالعزیز ونیول شو او د خیانت تور پرې ولگول شو.

دغه راز پخوانی ولیعهد او د کورنیو چارو وزیر شهزاده محمد بن نایف چې په ۲۰۰۰ کال کې د القاعده له خوا اورپکی ته د ماتې ورکولو لپاره ستایل شوی و، نیول شوی دی.

د ولیعهد محمد بن سلمان د استخباراتو مشر او د امریکا د استخباراتو سي آی اې پخوانی متحد سعد الجباري ۲۰۱۷ کال کې کاناډا ته لاړ او وروسته یې د محمد بن سلمان پر ضد قانوني دوسیه ځکه پیل کړه، چې گواکې د جمال خاشقجي له وژل کېدو وروسته یې د هغه د وژلو لپاره هم یوه ډله استولې وه.

د الجباري ماشومان په سعودي کې د هغوی په کور کې نیول شوي او تورن شوي چې له بیت المال نه یې ناوړه گټه اخیستې ده.

**په احتیاط پورته کېدونکي غږونه**

د امریکا پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ دې قضیو ته لږه یا هېڅ پاملرنه نه ده کړې. نوموړي واک ته له رسېدو وروسته خپل لومړنی بهرنی سفر هم ریاض ته وکړ او د دې پرځای چې د سعودي پر چارواکو له بشري حقونو څخه د سرغړونو په خاطر فشار واچوي، لیواله وو چې له سعودي مشرانو سره معاملې وکړي.

اندریو سمت وایي: «هر امریکایی ولسمشر کولای شي چې نفوذ ولري او د ډیموکراسۍ لپاره یې وکاروي، خو ټرمپ دا کار ونه کړ.»

پخوانی امریکایي ډیپلومات ډېنس راس چې د امریکا د بهرنیو چارو له وزارت سره یې د منځني ختیځ لپاره د تگلارې د همغږۍ په برخه کې کلونه کار کړی، بي بي سي ته وویل: «د ټرمپ ادارې یوه لویه تېروتنه وکړه چې سعودي مشران یې تر فشار لاندې ونه نیول، خو تاسو څنگه کولای شی چې د ستراتیژیکې لیوالتیا لرلو سره داسې وکړی؟»

سره له دې چې د بایډن ادارې په دې برخه کې خپل دریځ روښانه کړی، بهرنیو چارو وزارت، استخباراتو، دفاع وزارت او پوځ کې به په احتیاط سره غږونه پورته شي چې له سعودي سره چلن کې پام وشي.

که د هر دلیل له مخې سعودي کې لوېدیځ پلوه واکمنه کورنۍ واک وبایلي، د دې چانس خورا ډېر دی چې یو سخت دریځه اسلامي رژیم یې ځای ناستی شي، چې له لوېدیځ سره به خواخوږي نه لري.

د ډېنس راس په څېر ډیپلوماتان په دې خبره پوهېږي. هغه وایي: «موږ نه شو کولای چې سعودي چارواکو ته ووایو چې څه وکړي او څه نه، تاسو په عام محضر کې څوک پر سر نه وهی او یا هغوی اړباسی چې دا کار وکړه، دا چاره د لوړې کچې محرمو خبرو ته اړتیا لري.»

خو که اصلي پوښتنه وشي او هغه دا چې ایا د ولسمشر بایډن اداره به سعودي کې د بشري حقونو حالت ښه کړي؟ نو ځواب یې هو دی، خو دا په دې پورې اړه لري چې سپینه ماڼۍ په دې برخه کې خپله اجنډا څنگه او تر کومې کچې پرمخ وړي او د دواړو هېوادونو گټې په څه کې دي.

چین او روسیه له ریاض سره سوداگرۍ ته ډېر لیوال دي او د بشري حقونو په اړه اینبوونکې پوښتنې هم نه کوي، خو د شاهي محکمې د یوه چارواکي په وینا، د اوس لپاره امریکا د سعودي ستراتیژیکه ملگرې ده.

«د بایډن اداره به د تېر په پرتله پر بشري حقونو ډېره رڼا واچوي، همدا یې په اجنډا کې شامله ده او دا چاره عمل غواړي، نه خبرې.»

# د هدفي بریدونو او چاودنو اوج؛

## طالبانو او حکومت دواړو د دوکتور عاطف وژل کېدل غندلي



په هېواد کې د تاوتریخوالي د ډېرېدو په دوام یوازې تېره ورځ په کابل کې څلور چاودنې شوې دي. پرون له سهاره تر مازیگره کابل ښار څو څو ساعته وروسته د ماینونو د چاودنو شاهد و. په دغو چاودنو کې لسو کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې، چې په دې ډله کې د هېواد یو علمي او فرهنگي شخصیت هم وژل شوی دی. د چاودنو مسوولیت تر اوسه هېڅ لوري نه دی منلی او طالبانو هم په دې پېښه کې لاس لرل رد کړي دي. افغان حکومت یې بیا د طالبانو کار بولي او نړیوال هم په افغانستان کې د هدفي بریدونو پر ډېرېدو اندېښنه ښیي.

کابل ښاریانو پرون سهار په چاودنه پیل کړ. شاوخوا اته بجې وې چې د کابل ښار د دویمې ناحیې په مربوطاتو کې له جوی شیر نومې سیمې سره د امنیتي کسانو پر یو فورډ ډوله موټر د مقناطیسي ماین چاودنه وشوه. په چاودنه کې د امنیتي سرچینو په وینا، دوه کسه ټپیان شول. دویمه چاودنه د کابل ښار د څلورمې ناحیې اړوند له سلیم کاروان نومې سیمې سره وشوه چې د امنیتي سرچینو په خبره، په پېښه کې دوه کسان وژل شوي او دوه نور ټپیان دي. د دې چاودنې په وژل شوو کې د هېواد وتلی دیني عالم دوکتور محمد عاطف هم شامل و. د نوموړي وژل کېدو له حکومت نیولې بیا تر طالبانو پورې د ټولو اړخونو غبرگون له ځان سره درلود.

د وسله والو طالبانو له لوري یوازې تر چاودنې څو ساعته وروسته مطبوعاتي اعلامیه خپره شوه او د دې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد پر دوکتور محمد عاطف شوې چاودنه په کلکو ټکو غندلې وه او هغه یې د ځانگړې خبیثه کړۍ کار بللی و. د طالبانو ویاند همدا راز ویلي چې دوی په افغانستان کې د خبریالانو، سیاسي څېرو، مدني فعالینو او دیني علماوو په وژنه کې لاس نه لري، بلکې دا د یوې خبیثې او استخباراتي کړۍ کار دی. د ده په وینا: «په خواشنۍ سره خبر شوو چې د استخباراتي وژنو په لړ کې، نن سهار په کابل کې د جمعیت اصلاح د مرکزي شورا رییس محمد عاطف په شهادت رسېدلی. موږ د عالماوو، خبریالانو، سیاسي او اجتماعي شخصیتونو ترور غندو او د خاصې خبیثه کړۍ کار یې بولو».

دوکتور محمد عاطف کلونه د افغانستان په شخصي او دولتي پوهنتونونو کې په تدریس بوخت و او دمگړۍ د جمعیت اصلاح افغانستان د مرکزي شورا رییس و. د نوموړي پر وژل کېدو ولسمشرۍ ماڼۍ هم غبرگون ښودلی دی. د ارگ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې د هېواد دښمنانو د خپلو جنایتونو په دوام دا ځل پر دوکتور محمد عاطف برید کړی دی. ولسمشرۍ ماڼۍ په خپلو خبرو کې دا د طالبانو کار بللی او پر دغه ډله یې غږ کړی چې د سولې له لارې خپله لار وپالي او د جگړو پر مټ موخو ته نه شي رسېدلی.

د سرچینې په خبره: «د طالبانو ډله باید دا درک کړي چې د تاوتریخوالي، ترور او وحشت له لارې نه د خپلو بادارانو شومو موخو ته رسېدلی شي، نه د جنایتونو له مسوولیت څخه خپلې اوږې سپکولی شي او نه هم دیني علما د ترهگرۍ ضد اسلامي او ملي دریځ څخه اړولی شي».

د یادو شوو چاودنو ترڅنگ غرمه مهال د کابل ښار په دهمزنگ سیمه کې او بیا مازیگر مهال د کابل ښار د اتمې ناحیې اړوند سیمه کې هم چاودنې شوې چې له امله یې څلور کسان ټپیان شوي دي.

په کابل ښار کې داسې مهال د مقناطیسي ماینونو او هدفي وژنو کچه لوړېږي چې تازه سیگار هم پر دې موضوع اندېښنه ښودلې ده. د افغانستان پر بیا رغونه د امریکا دغه ځانگړي مفتش په خپل یوه راپور کې ویلي چې په وروستیو کې په کابل او نورو ولایتونو کې پر خبریالانو، حکومتي چارواکو، مدني فعالینو او علماوو د داعش ډلې او طالبانو هدفي بریدونه ډېر شوي دي. سرچینه وایي، تمه لري چې امریکا به پر طالبانو د فشار له لارې په افغانستان کې تاوتریخوالی کم کړي او هدفي بریدونه به پای ته ورسوي.

# <u>بایډن:</u> د میانمار پر استبدادي پوځ او کودتاه کوونکو به سخت بندیزونه ولگول شي

په میانمار کې له پوځي کودتاه وروسته، د امریکا د متحدو ایالتونو ولسمشر جو بایډن پر دغه هېواد د سختو بندیزونو د لگولو خبرداری ورکړی دی.

د یادونې ده چې د میانمار یا برما پوځ د روانې اونۍ د دوشنبې په ورځ تر کودتا وروسته د حکومت د ملکي رهبرانو په نیولو پیل وکړ. امریکا له لسیزو راهیسې په میانمار کې د ډیموکراسۍ د پراختیا هڅه کوي، چې اوس وېره پیدا شوې چې دغه هېواد بېرته د استبدادي نظام پر لوري په ستنېدو دی.

په دې اړه ناهیلي وروسته له هغې لا زیاته شوه، چې د دغه هېواد د اپوزیسیون پخوانۍ مشره او برحاله رهبره انگ سان سوچي هم د پوځ له خوا نیول شوې ده.

د امریکا ولسمشر جو بایډن په یوه اعلامیه کې وویل: «په برما کې د پوځ له خوا پر قدرت منگولې ښخول، د انگ سان سوچي او نورو ملکي چارواکو نیول کېدل او په ملي سطحه د اضطراري حالت اعلان، ډیموکراسۍ ته د دغه هېواد پر انتقال او د قانون پر حاکمیت یو مستقیم برید دی.»

بایډن ویلي، امریکا له میانمار وروسته له هغې بندیزونه لېرې کړل، چې دغه هېواد د ډیموکراسۍ پر لوري تگ پیل کړ، خو نوموړي خبرداری ورکړی چې د یاد هېواد پر پوځ او کودتاه کوونکو به بېرته سخت بندیزونه ولگول شي. د میانمار د پوځ اړوند یوه ټلوېزیون ورمه ورځ په دغه هېواد کې بېړني حالت اعلان کړ. په ورته مهال، د اروپایي ټولنې د بهرنیو چارو او امنیتي پالیسۍ د لوی کمېشنر ژوزیف بوریل ویاندې نبیلې مصرالي په بروکسل کې یوه کنفرانس ته وویل: «دا د میانمار له اساسي قانون څخه ښکاره سرغړونه ده. د حکومت د رنگولو لپاره د پوځ له خوا دا هڅه او ډیموکراسۍ ته د میانمار د خلکو د رسېدو د ارادې مخنیوی هغه څه دي چې موږ ورباندې خواشیني ښیو. موږ دا کودتا غندلې ده.»

په همدې حال کې د ملگرو ملتونو امنیت شورا پرون ناوخته په میانمار کې د وروستیو تحولاتو په اړه بېړنۍ غونډه وکړه. دغه غونډه په انلاین بڼه د تړلو دروازو تر شا وشوه، چې د امنیت شورا غړو یې ورمه ورځ پر جوړېدو موافقه وکړه. ملگرو ملتونو اندېښنه ښودلې چې په میانمار کې شوې کودتا به د روهینگیا مسلمان اقلیت د هغو شپږسوه زره غړو وضعیت لا کړکېچن کړي، چې لا هم په دغه هېواد کې پاتې دي.

د یادونې ده چې له ۲۰۱۷ز کال راهیسې د پوځ د فشارونو له کبله د میانمار له راخین ایالت څخه د روهینگیایي مسلمانانو څه باندې اووه سوه زره کسان گاونډي هېواد بنگله دېش ته کډوال شول، چې لا یې هم هلته په کمپونو کې اړولي دي.

د ملگرو ملتونو سرمنشي انتونیو گوترېش او غربي هېوادونو د میانمار پوځ په قومي تصفیې تورن کړی، خو پوځ دا تورونه رد کړي دي.


## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه

**کابوکې**




دورانی: په دې ځانگړې ناسته کې موږ پر اوسنی حاکمې فضا خبرې وکړې، چې آیا په اوسني وخت کې په ډیلي کې یو توافق ته د رسېدو امکان شته، که نه. زما نظر دا دی چې دغسې امکان نه‌شته او اُن د دې توافق لپاره هڅې باید لا و نه‌شي.

دولت: ما مخکې د یو څو غونډو ریسک اخیستی و. په دغو غونډو کې مې ویلي و چې دا مذاکراتو ځای نه نیسي، ولې اجیت ډوال لاهور یا اسلام‌اباد ته نه درغواړئ. زړه مې را ته وایي چې دی به یې په سترگو ومني. ښایي همدا د پیل ټکی شي.

دورانی: او پر دې خبره لومړنی اعتراض ما کړی دی.

دولت: احسان راسره ومنله او ویل چې دا دومره ستونزمن کار نه دی. زموږ د غاړې «کی. ایم. سینگ» وویل چې له لوی درستیز سره به وکتلای شي؟ احسان ویل چې دا کار هم شونی دی.

زه خپله پر دغه وړاندیز زړه نا زړه وم. په اوسنیو شرایطو کې اجیت ته دغسې وړاندیز کول آسانه کار نه دی. تر اوسه ده ته دغسې وړاندیز نه‌دی شوی.

د ملي امنیت سلاکاران سره په اړیکه کې دي. زه چې څومره خبر یم، دوی پر ټلیفون سره غږېږي، خو ډېر وخت کېږي چې سره کتلي یې نه دي. ځکه خو زه وایم چې دغه اړیکې ځای نه نیسي. جنرال صېب، تاسو راسره دا خبره منئ؟

دورانی: پر دې خبرې زه دوې نیوکې لرم، لومړی خو دا چې په پاکستان کې به څوک دغه وړاندیز و نه‌مني. تر گردو مهمه خبره دا ده چې فرضاً که دی زموږ بلنلیک ببړته زموږ پر مخ ووهي او ووایي چې ولې درشم. بیا نو د دې امکان هم شته چې بیا به پر هر ځای کې کېني او وایي به چې د پاکستان په تړاو زما له دې ټولو خبرو او د دوی پر خلاف زما پر ټولو کړنو سربېره دوی را ته په گونډو شوي دي. له ده د دغسې کاره هېڅ شک نشته.

سېنها: دا نو یو څه غیر منطقي ښکاري.

دولت: په رښتیا هم د بلنلیک د منلو په تړاو پوښتنه راپورته شوې وه. دا پوښتنه ارزول شوې وه او ځواب یې هو و. زما په فکر، اجیت به ورته خوشاله وي. خو بیا هم تر اوسه ده ته وړاندیز شوی نه‌دی.

سېنها: نو د هند-پاکستان په اړیکو کې د بن‌بست د ماتولو لپاره د ملي امنیت سلاکار رول ډېر مهم دی؟

دولت: دا نو په هېواد کې د ملي امنیت سلاکار په سیسټم پورې تړلی دی. په هند کې د امنیت سلاکار د څوکۍ قدامت تر لومړي وزیرانو رسېږي. د ملي امنیت سلاکار څوکۍ چې کوم تکاملي پړاو وهلی دی، نو د ملي امنیت سلاکار یې پر مهم شخص بدل شوی دی. په تېره بیا دغه اجیت ډوال خو د مودي (مرید) دی. په مودي پسې دی دویم سړی دی، تر ډېره داسې یو څوک دی لکه برجېش مېشرا چې واجپای ته و. توپیر یې په دې کې دی چې د دغو دواړو اړیکه ډېره پېچلې وه او په تړاو یې ډېرې خبرې نه دي شوې.

دورانی: ویلای شو چې د مودي او اجیت ډوال کارونه لا روان دي او موږ ته معلومات نشته چې دوی به چېرته رسېږي. تر اوسه له نښو نښانو دواړه مطلبه اخیستل کېږي، خو سړی ویلای شي چې کارونه یې تر ډېره نمایشي دي او کوم ځای ته به و نه رسېږي.

دولت: په‌دې کې شک نشته چې له نښو نښانو دواړه مطلبه اخیستل کېدای شي. زه ډاډه یم چې تاسې به گنگس کړي، په ډیلي کې یې موږ هم گنگس کړي یو. زما له انده خلک یې برې ته زښت لیواله، یا ویلای شو چې تقریباً په اضطراب کې دي. د دې خبرې ښه ثبوت له رایونډه د مودي لیدنه ده.

سېنها: د دواړو هېوادونو د ملي امنیت د سلاکارانو ترمنځ اړیکې څنگه دي؟

دولت: جنرال صېب ته به یې ښه معلومات وي، خو له زیاتره خلکو یې چې اورم وایي چې اړیکې یې سره ښې دي.


سېنها: دا نو یو څه گیچ کوونکې ده.

دولت: که سړی سم قضاوت وکړي، نو گنگسوونکې نه ده. د دواړو اړیکې سره ښې دي، د دواړو ترمنځ د یوې ټلیفوني اړیکې فاصله ده. دواړه له یو بل سره په ټلیفون غږېږي، سره گوري. دا ښه اړیکه ده، خو دواړه خواوې ترې گټنه کولای نه‌شي او په دې کې دواړه خواوې ملامتې دي. که د دوی ترمنځ ښې خبرې روانې وي، نو ولې د یو څه وخت لپاره لومړي وزیران څنډې ته کوي نه او دغه ښې خبرې نه غځوي.

پاکستان اجیت ډوال ته سم پام کړی نه‌دی. که نورې ټولې لارې تړل شوې وي، نو د فرصتونو یوه لویه کړکۍ به پرانیستې وي او هغه اجیت ډوال دی. که ده ته ښه او ډېر روښانه فرصت په لاس ورشي، نو دی به یې ضایع نه کړي. **دوام لري...**

# ولې رانه لاړې

◀ اکسوس کتابپلورنځی




(ولې رانه لاړې) ناول تازه چاپ شوی دی او لیکوال یې فرهاد تاند دی.

ناول یا داستان پرته له شکه چې زموږ په ژوند کې حیاتي ارزښت لري او که لږ څه په دقت پام ورته وکړو، زموږ هرڅه له ادبیاتو او بیا داستان متاثیر دي او تر ډېره خپلې غوښتنې، هیلې او گیلې هغه که په نظم کې وي او که په نثر کې بیانوو. دا ډول ډېرې پېښې زموږ خپلې تجربې وي او زموږ له خپل چاپېریال متاثیره وي او ځکه خو د بل هرڅه په پرتله زموږ له روح او روان سره ډېر اړخ لگوي.

دا غوښتنې، گیلې او ارمانونه چې کله د داستان او یا هم نظم په چوکاټ کې وویل شي، تاثیر یې دوه چنده زیاتېږي او بیا هماغه دي چې پر لوستونکي او اورېدونکي ډېر اغېز هم کولی شي. معمولاً د دې ډول داستانونو او نظمونو تر شاه اصلي کرکټرونه ډېری وخت د همدې موضوعاتو قرباني شوي دي، ځکه خو یې د دې موضوع لیکلو او یا هم د نظم په ژبه نورو ته د رسولو هڅه کړې ده، څو هغوی د دې ډول موضوعاتو قرباني نه شي.

د دې داستان(ولې رانه لاړې) کیسه هم د یوه داسې ځوان پر ژوند راڅرخي، چې ټول ژوند او ارمانونه یې د کلتور قرباني شوي دي، هیلې یې مړاوې شوې دي، له کور کلي، خپلوانو او کورنۍ لرې شوې دی، د خلکو منځ کې په بد نوم پېژندل شوی او بالاخره د خلکو د خبرو له وجې د وطن پرېښودو ته اړشوی دی.

د داستان اصلي کرکټر هم همدا ځوان دی، په لومړیو کې په لرې کلیواله سیمه کې ژوند کوي او په سختو حالاتو کر راگیر دی، کورنی وضعیت یې ډېر خراب دی او د کور ټوله سرپرستي ورتر غاړې ده. خو له دې هرڅه سره سره بیا هم همت له لاسه نه ورکوي، په کور کلي کې درانه کارونه کوي، تر ماښامه د بل په در کې مزدور او په خاورو سپېره مخ ولاړ وي، دی نه یوازې دا چې خپلې کورنۍ ته د یوې مړۍ حلالې روزۍ د لاسته راوړلو لپاره د بل مزدوري کوي، پر دې سربېره ښوونځي ته هم ځي، ښوونځی خلاصوي او د عمر تر ټولو ښه دوران(ځوانی) ته رسېږي، خو وضعیت یې لا هماغه پخوانی دی، ایله د سهار او ماښام پیدا کوي.

دا وخت په کلي کې د یوه ملک پر لور زړه بایلي او ورځ تر بلې یې له هغه سره مینه زیاتېږي، دی د دې لپاره چې خپلې معشوقې ته خپله مینه ثابته کړي، د هغې پلار ته ریبار ورلېږي، خو دا چې د دوی وضعیت ډېر خراب دی د هغه نجلۍ پلار انکار کوي او نه غواړي چې لور یې یوه غریب ځوان ته واده شي. دا غوښتنه په څو څو وار کېږي، خو د نجلۍ پلار په خپله هماغه پخوانۍ خبره ولاړ دی. په دې راز کلیوال خبرېږي او نور هر ځای د کلیوالو مجلس په دوی جوړ دی، د نجلۍ پلار مجبورېږي او نور د همدې تور او تهمت له وجې چې خلک یې په لور او د هغې پر معشوق لگوي، کډه وړي ښار ته او بیا بیا د ځوان کورنۍ ته وایي چې تاسې هېڅ هم نه لرئ، زما لور به ستاسې کور کې څه خوري، بیا به خلک زما لور ته دا وایي او ها وایي، که دومره پیسې را کولای شئ او دا شرطونه مې منئ، بیا مې لور درکوم، که نه له هغه پرته مې چې بل وار دروازه کې ونه درېږئ.

ناول د پښتني کلتور، د هغه د بدو پایلو او د هغوی د قرباني شوو وگړو د ژوند په اړه خورا دردوونکی او له عبرت ډک تصویر لري. ژبه یې روانه او کرکټرونه یې ښه لوبېدلي دي. انځورکښنه داسې پکې شوې چې ان پر لوستونکي هغه صحنې ټولې کچ کوي.

مینه وال کولای شي یاد ناول پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قېت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د ملتونو ترمنځ سیاست | هانس جی. مورگنتا | ٤۸۰ |
| ۲ | د جغرافیوي اطلاعاتو سیسټم | مرتضی ناصري | ۱۳۰ |
| ۳ | نړیوالتوب | ډیویډ هلډ، انتوني مک گرو/ارشاد رغاند | ۱۳۰ |
| ٤ | حقوق بین الملل عمومی | محمدرضا ضیائی بیگدلی | ٤۸۰ |
| ۵ | د مینې درسونه | سټیفن کنډریک، اېلاېکس کنډریک/مسلم داوودزی | ۱۷۰ |
| ٦ | د ویډیو گرافۍ او فلمبردارۍ اساسات | عبدالعظیم نوربخش/نجات الله نواز | ۲۵۰ |
| ۷ | د چاپېریال نړیوال حقوق | ارامش شهبازي، بهنام رضایي نسب/خالد سنگر | ۱۵۰ |
| ۸ | د عامه اړیکو لارې چارې | رحمان سعیدی/فضل ولي شیراني | ۱۵۰ |
| ۹ | پښتون افغان افغانستان | محمدحسن کاکړ | ۱۲۰ |
| ۱۰ | لومړۍ او دویمه بین الافغاني غونډه ماسکو | نظرمحمد مطمئن | ۱۷۰ |
| ۱۱ | د قطر بین الافغاني غونډه | نظرمحمد مطمئن | ۱۸۰ |
| ۱۲ | د امریکا او طالبانو د سولې تړون | نظرمحمد مطمئن | ٤۰۰ |
| ۱۳ | اموزش عملی و کاربردی CCNP TSHOOT | محمدعلی بازیار، عاطفه شهریاری | ۲۲۰ |
| ۱٤ | اموزش عملی و کاربردیRoute CCNP | مسعود حسینقلی پور | ۳۵۰ |
| ۱۵ | CCNA 200-125 اموزش عملی، کاربردی و تصویری | مسعود حسینقلی پور | ٤۵۰ |
| ۱٦ | تحلیل داده های اماری با SPSS 24 | Keith Mc Cormick and Jesus Salcedo | ۵۰۰ |
| ۱۷ | هیدرولوژی اب زیرزمینی جلد اول | محمود محمدرضا پور طری، مهدی ایل بیگی | ۳۳۰ |
| ۱۸ | هیدرولوژی اب زیرزمینی جلد دوم | محمود محمدرضا پور طری، مهدی ایل بیگی | ۳۸۰ |
| ۱۹ | شبکه های کامپیوتری رویکرد کل به جزء جلد اول | مرتضی انالویی، مریم شیرمحمدی | ۳۵۰ |
| ۲۰ | شبکه های کامپیوتری رویکرد کل به جزء جلد دوم | مرتضی انالویی، مریم شیرمحمدی | ۲۵۰ |
| ۲۱ | مبانی الکترونیک | حسن سیدرضی | ۱۵۰ |
| ۲۲ | الفبای کامپیوتر | فاطمه فاتحی، علی احمداشرافی | ۳۵۰ |
| ۲۳ | مدیریت ریسک پروژه | حسین راد مهرو امیرحسن محبی | ٤۵۰ |
| ۲٤ | تشریح کامل مسایل مکانیک خاک | مهدی امیری بهقدم | ۲۵۰ |
| ۲۵ | هواشناسی در ابخیزداری | شهرام خلیقی سیگارودی، امین صالح پورج، مریم تاجیکی و محمدعلی فتاحی اردکانی | ۱۵۰ |
| ۲٦ | اموزش جامع Auto CAD پیشرفته | علی محمودی | ۵۵۰ |
| ۲۷ | فنون کاربردی سامانه اطلاعات جغرافیایی در پروژه های منابع طبیعی | امین صالح پورجم، محمدعلی فتاحی اردکانی و مریم تاجیکی | ۱۸۰ |
| ۲۸ | کاربرد سامانه اطلاعات جغرافیای در مطالعات فیزیوگرافی و توپو گرافی | علی سلاجقه، امین صالح پورجم، یحیی روستایی | ۱۸۰ |
| ۲۹ | کاربرد Arc GIS در برنامه ریزی و مدیریت شهری | محمدرضا رضایی، مسلم شمشیری، سعیدجوی زارده | ۸۵۰ |
| ۳۰ | مفسدناول | ایمل پسرلی | ۱۷۰ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانی


# یوازې د روانو اوبو په څېر مخکې مه ځئ!

ژباړه: امان الله حنيفي

هيله لرم چې وده او پرمختګ مو د خپل ځان او هغو کسانو لپاره د لومړيتوبونو په سر کې ځای ولري، چې ستاسې په ژوند کې شريک دي. دا تر ټولو ښه انتخاب دی چې هرڅوک يې کولای شي. له بده مرغه ډېری خلک دا کار نه کوي. هغوی د پرمختګ مسير د سفر پر ځای هغه سفر پيلوي، چې زه ورته «د نياګرا ابشار سفر» وايم.
هغوی د خپل ژوند د رودخانې په درون کې غوټې وهي، کټ مټ لکه هغه کسان چې د موټر ټاير ټوپ په واسطه لامبو کوي، چې ډېری وخت بيا په اوبو کې غرقېږي. هغوی بدلون نه شي رامنځ ته کولای او حتی خپل هدف هم نه شي انتخابولای. یوازې ځان د رودخانې په خوله ورکوي چې هغه يې ورسره يوسي.
فردي پرمختګ هغه موضوع ده چې زه يې په اړه ډېر حساس يم او په دې اړه مې ډېر ليکل کړي دي، خو په دې اړه له خبرو کولو مطلب تاسې ته د خپل ليدلوري رسول دي.
هغه څه چې تر نورو يې زما د فکر پر طرز زيات اغېز وکړ، هغه د کارل دوک ليکل شوی کتاب «طرز تفکر: روانشناسي جديد موفقيت» و. دغه کتاب ډېر پر هغه څه تاکيد کړی و چې له ليدلو او تجربې يې وجود درلود. دوک وايي، انسانان دوه ډوله د فکر کولو طرز لري: ځيني ثابت ليدلوري لري. مانا دا چې دوی باور لري چې ټولې شخصي ځانګړني لکه هوش، شخصيت، خلاقيت، مهارتونه او... يې د بدلون وړ نه دي او همدا يې د ژوند کولو اساس او بنياد دی. ځينې نور بيا پرمختګ منونکی ليدلوری لري. دا ډول کسان باور لري چې کولای شي فردي خصوصياتو ته وده ورکړي.
دوک وايي، هغه کسان چې د ثابت فکر لرونکي دي، هغوی هر وخت د خپل ارزښت ساتلو په هڅه کې دي. هغه ليکي: «ما په درسي ټولګيو، کارځای او اړيکو پاللو کې ډېر داسې کسان ليدلي چې يوازينی هدف يې ځان ښودل دي. هر ځای د خپل شخصيت او اخلاقو د تاييد په لټه کې وي. په هر موقعيت کې دا ارزونه له ځان سره کوي چې ايا بريالی به شي او که به ماتې وخوري؟ ايا هوښيار به معلوم شي او که بې عقل؟ ايا د خلکو په نظر به ښه ورشي او که بد؟ ايا ګټونکی به شي او که بايلونکی؟
دوک وايي، هغه کسان چې پرمختګ منونکی ليدلوری لري، هغوی پوهېږي چې هڅه به کوي او پرمختګ کولی شي.
هغه ليکي: «پرمختګ منونکی ليدلوری د اصلي صفتونو لپاره پر هڅې کولو ولاړ دی. ممکن خلک په غوښتنو، مهارتونو او استعدادونو کې يو له بل سره توپير ولري، خو هر څوک کولای شی له خپلو صفتونو په ګټې اخيستنې سره خپلې تجربې بدلې او پرمختګ وکړي. ايا هغه کسان چې دا ډول باور لري، کولای شي دا هم ومني چې هرڅوک کولای شي خپلو غوښتنو ته ورسېږي؟
خير، هغوی باور لري چې د هر چا حقيقي انرژي نامعلومه او غير قابل د درک ده او ممکنه نه ده چې هغوی د وړاندوېينه وکړی شي، چې په کلونو کلونو زحمت ايستلو سره بېلابېلو احساساتو او سختو تعصباتو او بېلابېلو زده کړو سره به کوم کارونه تر سره کړای شي. يا په بل عبارت، د انسان وړتياوې نامحدودې دي او زموږ غوښتنه بايد يوازې دا و اوسي چې دا کشف کړو چې څومره کولای شو هغه پياوړې کړو.
د دوک څېړنې ښيي چې انسان طبيعتاً له دې دوو فکرونو يو لري. زه باور لرم، هغه انسانان چې دې نړۍ ته له محدود فکر سره راغلي دي، هغوی هم کولای شي د خپل فکر طرز او عادتونه يې بدل کړي. دوک وايي، تاسې یوازې يو انتخاب لرئ، کله چې له دې دوو يو انتخاب کوئ، تاسې يوې نوې نړۍ ته ننوځئ. دا يوه نړۍ ثابته ده چې هرڅه هوش، استعدادونه او وړتياوې مو محدودې دي او بله پرمختګ کوونکې نړۍ ده هلته ستاسې هرڅه وده کوي، هلته د ځان وده کول ارزوی او پر ټولو هغو اړخونو تمرکز کوئ چې تاسې عملاً پکې ښکېل ياستئ.
له دې دوو په يوه نړۍ کې ماتې خوړل یانې له يوې موانع سره مخ کېدل دي. کم امتياز اخيستل، په يوه سيالۍ کې ماتې خوړل، له ميدانه بيرون ايستل، منل او رټل په دې مانا دي چې تاسې هغسې چې لازمه ده، باهوشه او بااستعداده نه ياست. په يوه بله نړۍ کې ماتې خوړل یانې وده نه کول او د خپلو ارزښتونو لاسته نه راوړل په دې مانا دي چې نه شی کولای له ټولو بالقوه وړتياوو مو استفاده وکړئ.
په دې له يوه نړۍ کې هم هڅه ډېره ښه نه دي او که وواېو تر ډېره ماتې ته ورته ده او دا په دې مانا چې لا هم تاسې باهوشه او بااستعداده نه ياست. يانې که باهوشه او با استعداده وئ، هڅو ته مو اړتيا نه درلوده. په يوه بله نړۍ هغه کې بيا هڅه هغه څه ده چې تاسې باهوشه او استعداده جوړوي.
تاسې له دې په کومه يوه نړۍ کې ژوند کوئ؟ ايا غواړئ چې بدلون وکړئ؟ تاسې دا هرڅه کولای شئ! په دې شرط چې تاسې ځان ته مناسبه فضا او چاپېريال جوړ کړئ، څو له تاسې سره په پرمختګ کولو کې مرسته وکړي. ما د يو رهبر په حيث بېلابېل چاپېريالونه مطالعه کړي او رامنځ ته کړي دي. د هغو کلونو په ترڅ کې چې په دې برخه کې مې تجربه کړي دي، د پرمختګ کولو لپاره د مناسبې فضا اووه خصوصيات مې پېژندلي. د ودې لپاره مناسبه فضا هغه ځای دی چې:
۱ـ نور له تاسې لوړ وګڼئ. ايا تاسې په هغه ټولګي کې تدريس کوئ چې ځان تر ټولو په لوړ مقام کې شمېرئ؟ که همداسې وي، دا ټولګی ستاسې د ودې لپاره مناسب نه دی. بايد هغه کسان پيدا کړئ چې له تاسې لوړ استعداد ولري، څو وشی کولای له هغوی زده کړې وکړئ. ما خپله ټول وخت دا هڅه کړې څو هغه تر ځان چټک، ښه، باهوشه، پياوړي او مشران خلک پيدا کړم چې وشم کولای له هغوی يوڅه زده کړه وکړم.
۲ـ تاسې پرله پسې ننګول کېږئ. زه له دې سره مينه لرم چې هره ورځ له يو نوي موقعيت سره مخ شم، حتی که دا موقعيت زما لپاره ډېر سخت هم وي. دا باور ولرئ چې ننګونې موږ ورځ تر بلې پياوړي کوي.
۳- پر خپل غوره شوي مسير مو تمرکز وکړئ. انتوني رابينز وايي: «هرځای چې تمرکز وي، هلته انرژي په خوټېدو راځي.»
۴- فضا تاييدوونکې ده. کله مې چې په مسلکي ډول کار پيل کړ، پلار مې راته وويل، خلکو ته په ارزښت قايل شه! پر هغوی باور وکړه او له کوم قيد او شرط پرته له هغوی سره مينه وکړه.» د پلار د خبرې اصلي مطلب مې د تاييدوونکې فضا رامنځ ته کول وو. هغه پوهېده او زه هم د وخت په تېرېدو سره پوه شوم چې کله خلک هڅوې، هغه په خپل ټول توان او ممکن ډول د هغه د سر ته رسولو لپاره کوښښ کوي.
۵- تاسې له خپلې محدودې امن ساحې وتلي ياست. مخکې مې د خطر منلو په اړه کاپي خبرې وکړې، نورو جزياتو ته اړتيا نشته. یوازې دا درته وايم چې په خپله محدوده امن ساحه کې به هېڅ پرمختګ ونه کړئ او بلعکس په محدوده مخ پر وده کوونکې ساحه کې هم اسانتيا نشته. د ارامۍ له محدودې ساحې د وتلو يوه لار له نويو تجربو سره مخ کېدل او د هغه منل دي.
۶- په پوره هيجان له خوبه راپاڅېږئ. زه هره ورځ په پوره هيجان له خوبه راپاڅېږم، ځکه پوهېږم چې غواړم له خلکو سره مرسته وکړم، کار مې په ښه ډول تر سره کړم، له هغو خلکو سره مينه لرم چې زه ورسره کار کوم او غواړم چې بدلون رامنځ ته کړم.
۷- ماتې خوړل اصلي دښمن نه دی. د ودې لپاره د مناسبې مثبتې فضا يوه ځانګړنه دا ده چې تاسې له ماتې خوړلو سره مخ کوي او يا مو حتی د ماتې تجربه کولو ته هڅوي، څو له هغه زده کړه وکړئ.

## د بشري حقونو کمېسيون: رواني هدفي وژنې د سولې خبرې له ستونزو سره مخ کوي

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون وايي چې په هېواد کې رواني هدفي وژنې د سولې بهير له ستونزو سره مخ کوي.
که څه هم د افغانستان حکومت، نورو سازمانونو او هېوادونو هم د دغو وژنو د مخنيوي غوښتنه کړې، خو داسې ښکاري چې دغه لړۍ اوس هم بنده شوې نه ده.
د بشري حقونو خپلواک کمېسيون رييسې شهرزاد اکبر ويلي: «د هدفي وژنو دوام د هېواد وګړو او ملکيانو ته د وېرې وضعيت ايجادوي. پر مدني فضا، د مدني او بشري حقونو پر فعالانو هم اغېز کوي. حکومت بايد د هدفي وژنو د مخنيوي او د امنيتي وضعيت د ښه کېدو لپاره نوره هڅه هم وکړي. د دغو وژنو د عاملانو د پېژندنې لپاره دې زياتې هڅې وشي، چې قربانيانو ته عدالت ورسېږي.»



ياد کمېسيون وايي، د دوی د موندنو له مخې، په ۲۰۲۰ز کال کې په افغانستان کې د ملکيانو د وژنې دويم لوی عامل هدفي بريدونه وو.
دا په داسې حال کې ده چې په وروستيو دريو مياشتو کې ګڼ شمېر خبريالان، مدني فعالان، ځينې سياستوال او نورې څېرې په هدفي بريدونو کې وژل شوي دي.
که څه هم د دغو بريدونو مسووليت تر اوسه کومې ډلې پر غاړه نه دی اخيستی، خو حکومت او نړيواله ټولنه يې پړه پر طالبانو اچوي، خو طالبانو بيا په دغو بريدونو کې لاس لرل رد کړي دي.

## امنيت شورا: د دوحې هوکړه د ټولو پرېکړو د بنسټ په توګه نه منو

ملي امنيت شورا وايي، چې د امريکا او طالبانو د دوحې هوکړه د ټولو بين الافغاني مسايلو د پرېکړو مطلق بنسټ نه دی.
د يادې شورا وياند مولوي رحمت الله اندړ رسنيو ته په لېږلي غږيز پيغام کې دغه راز زياته کړې چې د نظام پر بنې بحث تر وخت مخکې دی.
د امنيت شورا وياند يادې څرګندونې د طالبانو هغو خبرو ته په غبرګون کړې چې ورمه ورځ يې ايران ته د سفر پرمهال ويلې وو چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د دوحې هوکړه کې په افغانستان کې د نوي اسلامي نظام پر جوړېدو شوې ده.
ملي امنيت شورا د طالبانو څرګندونو ته په غبرګون کې ويلي: «په دوحه کې د امريکايانو او طالبانو هوکړهلیک د ټولو بين الافغاني مسايلو د پرېکړو مطلق بنسټ نه دی، طالبان د نظام پر ميکانېزم تر تبصرو مخکې د دې خاورې د خلکو د وينو مسوول دي، د نظام پر چوکاټ بحث اوس تر وخت مخکې ده، فعلاً افغانان دې ته منتظر دي چې د جګړې دا ګرم اور مړ شي.»
هغه ويلي چې د جمهوري نظام مفهوم دا دی، چې د سياسي جوړښتونو هر تشکيل پکې ځايېدای شي. د امنيت شورا وياند ويلي، که طالبان د يو ترهګر باند پر ځای د تفاهم او سياسي فعاليت په يو جريان بدل شي، په خبره يې، په جمهوريت کې شاملېدلی شي.
په ورته مهال د ولسمشر غني د وياند مرستيال دواخان مينه پال هم ويلي، چې افغانانو ته له جمهوريت پرته بله هره بڼه د منلو نه ده. نوموړي زياته کړې، چې حکومت به د اساسي قانون په رڼا کې تر ټاکلې مودې فعاليت کوي او په خبره يې، ولسمشر به د ټاکنو له لارې واک خپل ځايناستي ته ولېږدوي.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې په افغانستان کې د لنډ مهاله حکومت په اړه اوازې ګرمې شوې دي. د ملا عبدالغني برادر په مشرۍ يو طالب پلاوی چې روانه اونۍ ايران ته تللی و، ورمه ورځ د دغه پلاوي غړو له خبريالانو سره په خبرو کې وويل چې په دوحه کې د امريکا او طالبانو ترمنځ تړون کې په افغانستان کې د نوي ټولشموله حکومت پر رامنځته کېدو هوکړه شوې ده.
تر دې مخکې بيا د طالبانو د سياسي دفتر مرستيال ملا شېر محمد عباس ستانکزي په روسيه کې خبريالانو ته ويلي وو، چې که ولسمشر اشرف غني استعفا وکړي، طالبان چمتو دي چې سوله وکړي.
بلخوا ولسمشر غني هم ويلي چې په افغانستان کې د موقت حکومت رامنځ کېدل به د وينې بهېدو لامل شي. طالبان پر داسې مهال د دوحې تړون پر عملي کولو ټينګار کوي، چې د جو بايډن حکومت ويلي چې ياد تړون ته له سره کتنه کوي.

اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۹۳,۲ |
| Rp. | ۴۷۹ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۴,۸ |

### بېړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

مسير ورځپاڼه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
اېډيټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey


غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۵مه | د ۲۰۲۱ د فبروري درېیمه | ۶۷۵یمه ګنه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱٤ | ۱۲ | ۱٦ | ۱۸ | ۱۱ |
| -۳ | ۳ | ۲ | ٦ | ٦ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۵ | لمر ختل ۰٦:۵۰ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:٤۸ | ماښام ۰۵:۲۵ | ماخوستن ۰٦:۵۱

## نړۍ




## راپورونه: ترکیې او اذربایجان له ارمنستان سره لانجمني پولې ته نږدې پراخ پوځي تمرینونه پیل کړي



د راپورونو له مخې، د ترکیې او اذربایجان ځواکونو د ارمنستان پولې ته نږدې په ختیځه اناتولیه کې پراخ پوځي تمرینات پیل کړي دي. دا ژمني پوځي تمرینات چې ورمه ورځ پیل شوي او د فبروري تر ۱۲ مې به دوام وکړي. دا د دغو دوو ترک ټبرو متحدانو ترمنځ د اړیکو د پراختیا وروستۍ نښه ده. د ترکیې دفاع وزارت په یوه بیان کې ویلي چې د دغو تمریناتو موخه په ژمنیو شرایطو کې د پوځي عملیاتو د همغږۍ او د مسلکي وړتیاوو یقیني کول دي. ترکیې د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ د نګورنو قره باغ د لانجمنې سیمې پرسر د شپږو اونیو جګړې پرمهال د اذربایجان کلک ملاتړ وکړ. دغه راز ترکي او روسي ځواکونه اوسمهال د اذري او ارمني ځواکونو ترمنځ پر اوربند د څارنې لپاره د اذربایجان په خاوره کې عملیات کوي. بلخوا د ملګروملتونو د بشري حقونو متخصصینو د ټولو هغو بندیانو د سمدستي خوشې کېدو غوښتنه کړې، چې د نګورنو قره باغ پر سر د ارمنستان او اذربایجان ترمنځ د وروستۍ جګړې په ترڅ کې نیول شوي دي. په جینوا کې مېشت د ملګروملتونو د بشري حقونو دفتر په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې دواړه هېوادونه باید کلتوري دودونو ته درناوی وکړي او د هغو کسانو مړي چې په دې جګړه کې وژل شوي، د هغوی کورنیو ته وسپاري چې ښخ یې کړي. دواړو هېوادونو د نګورنو قره باغ پر سر شپږ اونۍ سخته جګړه وکړه، چې د مسکو په منځګړیتوب د تېر کال د نومبر په نهمه پای ته ورسېده.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دوو میلیونو او ۲۵۰زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۰۴ میلیونه او ۲۵ زره او ۷۲۱ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۲۵۰زره او ۱۷٦ کسان مړه شوي او نږدې ۷٦ میلیونه نور ترې ببرته رغېدلي دي. د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲٦ میلیونه او ۹۱۱ زره او ۹۰۲ ته رسېدلي او ٤۵٤ زره او ۲۱۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او۷٦۷ زره او۲۰٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د نهه میلیونه او ۲۳۰ زره او ۱٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او۸۸٤ زره او ۷۳۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د درې میلیونه او۸۳۵ زره او۷۸۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.
فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## سیګار: حمله‌های هدفمند در افغانستان افزایش یافته‌اند



سیگار یا بازرس ویژه امریکا برای بازسازی افغانستان در یک گزارش تازه‌اش گفته‌است که حمله‌های هدفمند طالبان و گروه داعش بر مقام‌های حکومتی، رهبران جامعهٔ مدنی و خبرنگاران در کابل و دیگر ولایات، افزایش یافته‌اند.
در این گزارش آمده‌است: «پنج خبرنگار در دوماه اخیر سال ۲۰۲۰ میلادی و شماری از رهبران جامعهٔ مدنی در حمله‌های هدفمند در افغانستان جان باخته‌اند».
در گزارش افزوده شده‌است که بیشتر حملات هدفمند در ولایت‌های کابل، هلمند و کندهار، صورت گرفته‌است. گزارش می‌افزاید که با وجود خواست‌های مقام‌های امریکایی از طرف‌های درگیر جنگ برای پایان خشونت‌ها در این کشور برای پیشرفت‌ها در روند صلح افغانستان، هنوز هم خشونت‌ها، ادامه دارند.
در این گزاش اشاره شده‌است که بر بنیاد آمارهای مأموریت حمایت قاطع ناتو، ۲ هزار و ۵۸٦ غیرنظامی از ماه اکتوبر تا ۳۱ دسمبر سال گذشته در نتیجهٔ خشونت‌ها در افغانستان، آسیب دیده‌اند که از این میان، ۸۱۰ تن جان باختند و ۱ هزار و ۷۷٦ تن دیگر، زخم برداشته‌اند.
بر بنیاد این گزارش، بیشتر این تلفات ناشی از انفجار ماین‌های مقناطیسی بوده‌است.
در گزارش اضافه شده‌است که با وجود ادامهٔ خشونت‌ها در این کشور، تلفات غیرنظامیان نسبت به سال گذشته، ۱۴ درصد کاهش یافته‌است.
در ادامهٔ این گزارش آمده‌است که یافته‌های نیروهای امریکایی در افغانستان نشان می‌دهند که حملات در شهر کابل در ماه‌های اخیر نسبت به سال گذشته، افزایش یافته‌اند.


## ژوند

## سوني ګران بیه ځیرک موبایل معرفي کړ



سوني کمپنۍ خپل نوی ځیرک موبایل چې اېکسپریا پرو نومول شوی دی، معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل د مسلکي فوټوګرافۍ لپاره ډیزاین شوی دی. سوني اېکسپریا پرو ٦,۵ انچه ۴کې اولېډ ډوله مخ‌پاڼه لري او پکې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸٦۵ ډوله پروسېسر کارول شوی دی. شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې درې واړه یې ۱۲ مېګاپکسله دي. سوني کمپنۍ وایي چې دا د نړۍ لومړی ځیرک موبایل دی چې یوه ثانیه کې ۲۰ فرېم اټو فوکس او اټو ټرکېنګ برسېټ نومو ځانګړنو څخه ملاتړ کوي. دا هغه ځانګړنې دي چې د وېډیو ثبتولو پر مهال ډېرې ګټور ثابتېږي. کاروونکي کولی شي دغه تصویرونه او وېډیوګانې د سوني اېکسپریا پرو د ۵جي له لارې په چټکۍ سره په ژوندۍ بڼه خپرې کړي. دغه ځیرک موبایل به د هغو کاروونکو لپاره چې لوبې په ژوندۍ بڼه خپروي یا نور لوړ کیفیت لرونکې ژوندۍ خپرونې لري، ډېر ګټور ثابت شي. د سوني کمپنۍ د دغه ځیرک موبایل بیه ۲۵۰۰ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

## ژوند له ټولو زیارکښو انسانانو سره مینه لري



نامتو ټوکمار او کمیډین استیومارتین ځوانو ټوکمارو او کمیډنانو ته داسې نصیحت کوي: «هومره ښه و اوسئ چې هیڅوک هم تاسې له پامه ونه غورځوي.» دا جمله مې ډېره زیاته خوښېږي. ژوند له ټولو زیارکښو انسانانو سره مینه لري. کله چې په خپله کار کې ښه وی او د غوره اوسېدو په لټه کې اوسی، نو دا ناشونې ده چې تاسې به په دې برخه کې بریالي وی. کله موږ ناهیلي کېږو، ښې هڅې کوو، په خپلو هیلو باوري وو او په خپلو هیلو پسې ګرځو، خو هغو ته نه رسېږو، یا همداسې نه تر لاسه کېدونکې ښکاري، بیا هم همت له لاسه مه ورکوئ، بالاخره به یوه ورځ هغه ته رسېږی. هره پرېکړه ډېره مهمه ده، هر ګام مو مهم دی، ژوند په خپله لار روان وي، نه دا چې زموږ په لار. صبور او ډاډه اوسئ. د هغه ډېرې ماتوونکې په څېر و اوسئ چې ټوله ورځ ډبرې تراشي او بالاخره یوه ساده ضربه هغه ډبره ماتوي او سپین زر پکې پیدا کوي. تاسې به هم همداسې یوه ورځ د خپلې خوښې وړ ژوند ته رسېږی.

عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه
عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېتمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af
1515

